# بسم الله الرحمن الرحيم

د سالم ځوانانو د ګروپ ګرانو غړو کوښښ کوم چي په ډېره لنډه توګه له تاسي سره د پښتو ژبي د زدکړي په برخه کي مرسته و کم . دغه زدکړه به لومړی د پښتو ژبي له الفبې څخه را پیل کړو .

د پښتو ژبي الفبې :

ا ب پ ت ټ ث ج چ ح خ ځ څ د ډ ذ ر
ړ ز ږ ژ س ش ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق
ک ګ ل م ن ڼ و ( ه ه ـه ) ي ې ی ی ئ .

په دغه الفبې کي ( الف ، و ، ي ، ې ) واول ( vowel ) یا ږغ لرونکي توري دي او هغه نور ئې بې ږغه یا ( consonant ) بلل کیږي .

سربېره پر ( الف ، و ، ي ، ې ) واول تورو په پښتو کي یو شمېر نښې ( زورَ ، زېرِ ، پېښُ او زورکی ) که څه هم لیکل کیږي نه ، خو ږغ لرونکي نښې یا واول ( vowel ) دي .

د واول ( vowel ) یا ږغ لرونکو تورو ( الف ، و ، ي ، ې ) او نښي ( زورَ ، زېرِ ، پېښُ او زورکی ) دنده دغه ده چي بې ږغه یا کونسونانت توري یو له بل سره نښلوي او یا ئې په حرکت را ولي . یو څو مثالونه به ئې

دلته را وړو :

## لومړی : الف

الف کېدای سي چي هم واول او هم کونسونانت وي .

ـ کله چي (الف) د کلمې په منځ یا پای کي راسي ، واول وي لکه :

(تا) ـ دلته (ت) په (ا) ولاړه سوې ده، ځکه (ا) واول دئ .

(بابا) ـ دلته (ب) دوه ځله په (ا) ولاړه سوې ده، ځکه (ا) واول دئ .

(ښار) ـ دلته (ا) (ښـ) له (ر) سره نښلولی دئ، ځکه (ا) واول دئ .

(کار) ـ دلته (ا) (کـ) له (ر) سره نښلولی دئ، ځکه (ا) واول دئ .

(کتاب) ـ دلته (ا) (ـتـ) له (ب) سره نښلول ده، ځکه (ا) واول دئ .

(چای) ـ دلته (ا) (چـ) له (ی) سره نښلولې، ځکه (ا) واول دئ .

دلته باید و وایو چي په پورتنیو کلمو کي (الف) واول یا ږوغ لرونکی توری دئ .

(الف) د کلمې په پیل کي : که (الف) د کلمې په پیل کي را سي واول نه دئ بلکي بې ږغه یا consonant توری دئ ، مثالونه ئې لکه:

(اَنګور) ـ دا چي په (انګور) کي د (آ) پر سر زور راغلی دئ او موږ و ویل چي (زور) واول دئ او (ا) ئې له (نـ) سره نښلولی دئ ځکه نو وایو چي نوموړی (ا) واول نه بلکي کونسونانت دئ .

(آنا) ـ په (انا) کي لومړی (آ) چي زور لري کونسونانت او دوهم (ا) واول دئ ځکه چي (ن) ته ئې حرکت ور کړی دئ.

(آنار) ـ په (آنار) کي لومړی (ا) کونسونانت دئ ځکه چي پر سر ئې زور را غلی دئ، خو دوهم الف واول دئ ځکه چي (ن) او (ر) ئې سره نښلولي دي.

(اِراده) ـ په (اِراده) کي لومړی (ا) چي زېر لري واول نه دئ، خو دوهم (ا) چي تر (ر) وروسته را غلی دئ واول دئ ځکه چي (ر) ئې ولاړه کړې ده.

کله چي کونسونانت (ا) د کلمې په سر کي را سي او و غواړو چي په یو بل (الف) ئې ولاړ کړو نو باید دوه الفان سره و لیکو. دغه کار یعني د (الف) ولاړېده په یوه بل الف نا ممکن دئ ځکه د دوهم (الف) پر ځای د لومړي (الف) پر سر (مد) لیکو لکه:

(آس)

(آرام)

(آخر)

(آش)

(آغلې)

(آریانا)....

اوس ویلای سو چي د ( ا ) پر سر مد هم د ( الف ) له پاره د بل ( الف )
پر ځای واول دئ .

## دوهم : ( و )

### په پښتو کي ( و ) دوه ډوله دئ .

### ١ـ لنډ یا معروف ( و ) :

لنډ یا معروف ( و ) لکه : کډو ، بازو ، تارو ، ناجو ، توره ( شمشیر )،
انګور، اوږد، لاډو ، کاهو ، لور ....

لنډ یا معروف ( و ) هم د ( الف ) په څېر په ځینو ځایو کي واول او په
ځیو ځایو کي کونسونانت وي .

### لنډ یا معروف ( و ) د کونسونانت په ډول :

لنډ ( و ) که یو بل واول له کوم بل کونسونات سره نښلولی وي او یا
ئې په حرکت را وستلی وي نو دغه لنډ ( و ) کونسونات وي لکه :

( وار ) : دلته ( و ) کونسونانت ( بې ږغه ) دئ ، ځکه چي واول الف د
کونسونانت ( ر ) سره نښلولی دئ .

( وور ) : دلته لومړی ( و ) کونسونانت لنډ ( و ) دئ ، خو دوهم ( و ) اوږد
یا مجهول او واول ( و ) دئ .

(وير) يعني غم: دلته (و) لنډ او کونسونانت دئ او وروسته (يـ) واول ده.

(وېره): دلته (و) کونسونانت او وروسته (ې) واول ده.

په لوړو مثالو کي تر لنډ کونسونانت (و) وروسته واول توري را غلي دي.

دلته لاندي به د واول نښو (زورَ، زېرِ، پېښُ او زورکي مثالونه و ګورو:

(وَر) يعني دروازه: د کونسونانت (و) واول د (زور) نښه ده.

(وتل) له کوره وتل: دلته پر لنډ کونسونانت (و) زورکی را غلی دئ.

(وُل) يعني ويل: د (و) پر سر پېښ واول دئ.

لنډ (و) د واول په ډول: دلته لاندي به ئې يو څو مثالونه و لولئ:

(کډو): په کډو کي (و) واول دئ.

(تارو): په تارو کي (و) واول دئ.

(کوزه): په کوزه کي (و) واول دئ څکه چي (ک) ته ئې حرکت ور کړی دئ.

(بوره): په بوره کي (و) واول دئ څکه چي (ب) ته ئې حرکت ور کړی دئ.

## ۲ـ اوږد یا مجهول (و):

اوږد یا مجهول (و) لکه: بیزو ، ښارو ، کاکو ، لالو ، خور ، تور ، نور، کور ، بور ، پېغور ....

دلته لوړ په ټولو کلمو کي اوږد (و) واول دئ او هیڅ کله کونسونانت نه را ځي؛ یعني هیڅ کله د بل واول تر اغیز لاندي نه را ځي.

مثالونه ئې لکه:

خور: دلته اوږد (و) واول دئ.

ورور: لومړی (و) ساکن[۱]، دوهم (و) اوږد (و) واول دئ.

مور: تر (م) وروسته (و) اوږد (و) واول دئ.

کربوړی: دلته (و) اوږد یا مجهول (و) واول دئ.

خَروړی: دلته اوږد (و) واول.

بیزو: دلته اوږد (و) واول.

هډو: دلته اوږد (و) واول.

---

(۱) ساکن توري هغه توري دي چي نه په خپله واول وي او نه بل واول له بل توري سره ننبلولی وي یعني پر سر وړعندی یا غړوندی لري. مثالونه ئې لکه:
نجلۍ ـ په نجلۍ کي (ن) ساکن توری دئ، ځکه چي نه تر ده وروسته واول را غلی دئ او نه پر سر زور، زبر، پېښ یا زورکی لري. یو څو نور مثالونه ئې لکه: وْرور، کْړي، زْده، لْمر، سْپوږمۍ، سْتوری .... په خْوْري (دی منه خوري کي (خ، و دواړه) ساکن توري دي مثال ئې: دوی انګور خوري.

## په پښتو کې (ي ، ې ، ی ، ۍ ، ئ)

د پښتو (ی) ګانو خبره نن د ډېر خلکو او زدکوونکو د خوښې وړ ګرځېدلې ده. دا ځکه چې د هري (ي) د پر ځان نه کارول په کلمه کې خرابي را ولي. زه کوښښ کوم چې د دغه کار لپاره یو څو ټکي و لیکم. خدای دې و کي چې لوستونکي یو څه په لاس ور ځخه را وړي.

په پښتو کې (ی) دغه لاندې ډولونه لري.

١ ـ ملینه یا نرمه (ی)
٢ ـ معروفه یا لنډه (ي)
٣ ـ مجهوله یا اوږده (ې)
٤ ـ ثقیله تانیثي یا درنه ښځینه (ۍ)
٥ ـ ثقیله فعلي یا درنه فعلي (ئ)

په پښتو کې (ی ، ۍ او ئ) د الفبې د نورو بې ږغو یا کونسونانتو تورو لکه: (ت ، خ ، ر ، س ، م ، د ، او نورو) په شان کارول کیږي. ږغ د (ي) ور کوي مګر د واول په ډول نه کارول کیږي، خو یوه ځانګړتیا ئې دا ده چې د تر مخ توري د زور یا زورکي تعیینوونکي دي.

١ـ ملینه یا نرمه (ی) لکه: نرمه (ی) هغه کونسونانت یا بې ږغه توری ده چې د کلمې په پای کې د تر مخ توری ئې (یا زور یا الف او یا لنډ (و) وي لکه: سړی ، غمی ، لړګی ، منګی ، سپی، دی، ځای،

پای، زوی، خوی ، لوی ، بوی او نور.

ملینه یا نرمه (ی) دغه لاندي خواص لري:

- د کلمې په پای کي چي راسي تر مخ توری به ئې یا زور لري ، یا (الف) او یا معروف (و) وي.
- نرمه (ی) د کلمې په سر کي نه را ځي او که د کلمې په منځ کي را سي دوه ټکي اخلي او په خپله په معروفه (ي) اوړي لکه: زړګیه ، سړیه ، سپیه ، زمریه ، غوییه....
- نرمه (ی) که د اسمونو پـه پـای کي را غلې وي هغه اسمونه مذکر (نـرینه) مفـرد اسمونه وي لکه: سړی ، غویی ، زمری.... او کله کله د ځای د اسم په پای کي نسبتي صفت جوړوي لکه: له کابل څخه کابلی ، له هرات څخه هراتی ، له لغمان څخه لغمانی....

مثالونه ئې:

سړی پر خپله لار ځي.

په (سړی) کي تر (ی) له مخه توری (ړ) زور لري.

د ملالۍ د امبل غمی بریښي.

په (غمی) کي تر (ی) له مخه توری (م) زور لري.

احمد لرګی اره کړ.

په (لرګی) کي تر (ی) د مخه توری (ګ) زور لري.

لېوني سپی ډېر خطر ناک وي.

په (لېونی) او سپی کي تر (ی) له مخه توري (ن او پ) زور لري.
د دغه ځای ټول خلک په پښتو پوهیږي.
په (ځای) کي تر (ی) له مخه توری (ا) دئ.
دَی د ملالۍ ورور دئ.
په (دی) کي تر (ی) له مخه توری (د) زور لري.
احمد ډېر بد خوی لري.
په (خوی) کي تر (ی) له مخه توری لنډ (و) دئ.
ملالۍ په هغه لوی کور کي ژوند کوي.
په (لوی) کي تر (ی) له مخه توری لنډ واول (و) دئ.

۲ـ معروفه یا لنډه (ي): لکه پشي، نالي، کالي، پاکي، دي، لري او نور. معروفه (ي) دغه لاندي خواص لري:

- د کلمې په سر، منځ او پای کي را ځي.
- معروفه (ي) د کلمې یا هېجا په پای کي تر واول (الف) او مجهول یا اوږد (و) وروسته نه را ځي.

مثالونه ئې:
پشي موږک ته غلې ده.
ملالۍ پر نالي ناسته ده.
سدو خپل کالي پاک ساتي.
د بدن پاکي روغتیا ته ګټه لري.
د دغه کلي خلک غښتلي دي.

دوی په خپل کور کې یوه پشي لري.

کله چې معروفه یا لنډه (ي) د کلمې په سر کې راسي کونسونات ده او په خپله یوه بل واول ته اړتیا لري چې حرکت ور کې لکه:

په (یو) یعني (۱) کې (یَـ) زورکی لري او تر وروسته چې ئې (و) را غلی دئ ساکن او کونسونانت دئ.

په (بیا) کې (ب) ساکنه ده او (یـ) کونسونانت ده ، (الف) واول دئ.

۳ـ مجهوله یا اوږده (ې): لکه ادې ، شیدې ، مستې ، ډېر ، مېز، کاسې ، دې ، خورې او نور. مجهوله (ې) دغه لاندې خواص لري:

- مجهوله (ې) د کلمې په سر کې نه را ځي ، خو د کلمې په منځ او پای کې را ځي.
- د کلمې په منځ کې: ډېر ، تېر ، پرهېز ، تېز ....
- د کلمې په پای کې لکه: ادې ، پیالې ، لرې ، کاسې....

مثالونه ئې:

د احمد ادې ډېره سپین سرې ده.

د غوا شیدې پروتین لري.

مستې د شیدو ښخه جوړیږي.

موږ ډېر کتابونه لرو.

ستا کتابچې پر مېز پرتې دي.

د معروفي (ي) او مجهولي (ې) په کارولو کې د ختيځي او لوېديځي لهجې تر منځ توپير دئ.

لوېديځه لهجه د کندهارۍ لهجې او ختيځه د ننګرهار، لغمان، کنړ د خلکو لهجه ده. کندهارۍ لهجه د (زابل، کندهر، هلمند، اروزګان، فراه او د هرات د پښتنو) لهجه ده. د توپير يو څو مثالونه ئې:

| لوېديځه لهجه | ختيځه لهجه |
|---|---|
| د ښځي کتاب | د ښځې کتاب |
| چي | چې |
| په کابل کي | په کابل کې |

پورتني توپيرونه دلته ځکه را وړل سول چي ځيني لوستونکي دغه پوښتي چي دغه څرنګه خبره ده. هغه دئ وضاحت مي ور کړی دئ.

۴ـ ثقيله يا درنه تانيثي (ۍ): د مونثو يا ښځينه نومونو او هم د دغو مونثو اسمو د ځينو صفتو لپاره راځي لکه: ملالۍ، ګاډۍ، لنګۍ، غالۍ، لکۍ، ببړنۍ، لېونۍ، چوکۍ او نور.

هغه کلمې چي دغه (ۍ) ئې په پای کي را غلې وي مونث يا ښځينه نومونه يا د ښځينه نومونو لپاره صفتونه دي. دغه (ۍ) لاندي خواص لري لکه:

- هغه کونسونانت (ۍ) ده چي تر مخ توری ئې (زورکی) لري.

- دغه (ی) د کلمې په سر کې نه را ځي.
- دغه (ی) د کلمې په پای کې تر (الف) وروسته نه را ځي.
- دغه (ی) د ښځينه اسمو او صفتو لپاره را ځي.

مثالونه يې:

ملالۍ په ښوونځي کې ده.

پاچا امان الله خان غوښتل چې هيواد ته رېل ګاډۍ را ولي.

ميرويس خان د افغاني غيرت لنګۍ ترلې وه.

افغاني غالۍ نړۍ وال شهرت لري.

هغه کوچنی هلک پښې تر لکۍ کش کړه.

د ارغنداو د اولسوالۍ مځکې ښه حاصل ور کوي.

۵ ـ ثقيله فعلي (ئ): د فعلونو لپاره راځي لکه: مه کوئ!، و خورئ!، را وړئ!، خورئ او نور. ثقيله فعلي (ئ) دغه لاندې خواص لري:

- هغه کونسونانت (ئ) ده چې تر مخ توری يې زورکی لري.
- ثقيله فعلي (ئ) هم د کلمې په پای کې تر (الف) وروسته نه را
- ثقيله فعلي (ئ) د کلمې په سر او منځ کې نه را ځي.

مثالونه يې:

کوچنيانو، بد کارونه مه کوئ!

ژر را سئ، ډوډۍ و خورئ!

تاسې خپل کتابونه کور ته را وړئ!

کوم خواږه چي تاسي خورئ ښه ګټه نه لري.
په پورتنیو جملو کي د هري (ئ) تر مخه تـوری زورکی لري.

ځیني خلک دغه (ئ) امریه (ئ) بولي. په هر صورت دغه (ئ) د مونث اسمونو لپاره نه را ځي بلکي یوائي د فعلونو لپاره را ځي.

کله کله ځیني خلک لیکي: احمد خپل کار کړی دی. په لوېدیځه لهجه کي (کړی) او (دی) په ښځینه ثقیله (ی) نه بلکي په فعلي ثقیله (ئ) تلفظ او لیکل کیږي، نو موږ کولای سو چي په ثقیله فعلي (ئ) ئې و لیکو، خو نه په ثقیله ښځینه (ی). ثقیله ښځینه (ی) یوائي د ښځینه اسمو او د هغو د ځینو صفتو لپاره را ځي. هغه جمله باید داسي و لیکو:
که څوک غواړي چي مطلق په کندهاری لهجه ئې و لیکي، نو به داسي وي:
احمد خپل کار کړئ دئ.

که ئې څوک د پښتو ټولني د فیصلې له مخي لیکي، هغه به داسي وي:
احمد خپل کار کړی دی.

دلته خبره د (دی) او (دئ) ده. (دی) د غایب مفرد لپاره ضمیر دئ. د پورتنۍ جملې (احمد خپل کار کړی دی) په پای کي (دی) ضمیر د فعل پر ځای کارولی سوی دئ، ځکه ئې نور داسي لیکي:

احمد ځپل کار کړی دئ.

په دغه جمله (کړی) د فیصلې موافق او (دئ) فعل دئ.

د مخه تر دې چې په دغه برخه کې نور مخته ولاړ سو ښه به دا وي چې د پښتو ژبې یو څو ځانګړتیاوې را په ګوته کړو او بیا ئې له فارسي (دري) سره پرتله کړو:

لومړی -

شروع په ساکن توري: که څه هم په دغه اړه مو تر مخه خبرې کړې دي، خو بده به نه وي چې یو څو مثالونه ئې را وړو لکه:

نجلۍ، لمر، سپوږمۍ، ستوری، زده، زمور....

ساکن توری هغه توری دئ چې نه په خپله واول وي او نه د کوم بل واول له لارې په حرکت را غلی وي او نه په واول له بل توري سره نښتی وي.

دوهم -

زورکی: د پښتو بله ځانګړتیا زورکی دئ چې په فارسي دري کې نه سته.

زورکی د زور او پېښ تر منځ یو حرکت دئ. مثالونه ئې که څه هم څو پاڼې تر مخه را غلي دي، خو دلته به ئې یو ځل بیا یو دوه درې مثالونه را وړو:

ته ، زه ، مه ، که ، تل (همېشه) ، بل .... په ] (ته) کي پر (تـ) ، په (زه) کي پر (ز) ، په (مه) کي پر (مـ) ، په (که) کي پر (کـ) ، په (تل) کي پر (تـ) او په (بل) کي پر (بـ) زورکی را غلی دئ.

دلته د پښتو او دري تر منځ توپير دا دئ چي په دري ژبه کي:

۱ ـ شروع په ساکن توري نه کيږي لکه:

- په پښتو کي (زده) چي (ز) ئې ساکنه ده. دا چي د دري ژبي خبري کوونکي ساکنه (ز) نه سي تلفظ کولای ځکه ئې په (ايزده) تلفظ کوي. زموږ يو شمېر پښتانه ئې هم د فارسي ژبو څخه په تقليد (ايزده) تلفظ کوي ، چي دغه کار تېر وتنه ده.
- نجلۍ چي (ن) ئې ساکن دئ، دري ژبي ئې په اينجلی تلفظ کوي هغوی يو شروع په ساکن نه سي کولای او بل تر(ی) له مخه چي (ل) زورکی لري هغه هم نه سي تلفظ کولای ، ځکه ئې (اينجلی) تلفظ کوي. دا چي زموږ يو شمېر پښتانه ئې هم دغسي تلفظ کوي، نو تېروتنه کوي.

په تېره پاڼه کي چي مو نور مثالونه را وړي دي هغه هم فارسي ژبي هغه هم سم نه سي تلفظ کولای.

۲ ـ د زورکي تلفظ په دري کي نه سته: مثالونه ئې لکه:

- زه ، ته ، به ، له ، مه ، ښه ، که ....

په پورتنيو کلمو کي د (ز، تـ ، بـ ، لـ ، مـ ، ښـ) پر سر زورکی لري.

- ملالۍ ، ګاډۍ ، رسۍ ، غاړګۍ ، سپۍ ، و خورئ ، را وړئ ....
دلته هم په هره کلمه کې تر (ۍ ، ئ) مخکې تورى زورکى لري
ځکه د دري ژبې خبرو کوونکو ته ئې تلفظ مشکل دئ .

٣ ـ د پښتو ژبې د (ټ ، څ ، ځ ، ډ ، ړ ، ږ ، ښ ، ڼ) تلفظ :

د فارسي ژبې خبري کوونکو ته د پښتو د پورتنيو ږغونو تلفظ مشکل دئ ، خو په دغه وروستيو کلو کې د کندهاري کوچنيانو او ځوانانو په خبرو کې هم (څ) په (س) او (ځ) په (ز) اوښتي دي . ښه به دا وي چې ځوانان او د کوچنيانو ميندي او پلرونه دغو ټکو ته پاملرنه و کړي او سم ئې کې .


عبدالعلي رسول زاده

alirasulzada@hotmail.com

www.pashto.se

Tel:0046709384755